د تحریک ازادئ دوه روښانه شمعي
(سیده بشره بېګم او الف جانه خټکه)

**Two shining candles of Independence movement**
**(Sayeda Bushra Begum and Alif Jana Khattaka)**

[1] Dr. Mazhar Ahmad
[2]Sikandare Azam

**ABSTRACT**

*The freedom movement of Indo Pak was multidimensional from all stakes during British occupation. As for as the Indian British the then North West Frontier Province was concerned, the Pashtu literature and literacy persona played a pivotal role in it. The freedom movement led by the Khudai Khidmatgar movement produced hundredths of poets, beside male there were a lot female poets who worked through their strong power of pen. Out of them, Sayeda Bushara Begum and Alif Jan Khattaka were two legendary poets. Their intrinsic power of inkling people towards freedom movement through patriotic poetry. Both the legendary ladies participated in Khudai Khidmatgar movement during their childhood along with their parents who were active workers of the movement. This paper will explore how these two poets portrayed sentiments of patriarchist in rustic minds.*

Pukhtunkhwa Journal

[1] Assistant Professor, Department of Pashtu, University of Malakand
[2] PhD scholar, Department of Pashtu, University of Malakand

د الف جان د زړۀ ارمان دے مکمل ازادي
رور مي شۀ خه! د خپلي خور د زړۀ ارمان وګټه[1]

د انسان ازادي د ټولنيز ژوند په مختلفو ډګرونو لکه اقتصادي، سياسي، مذهبي او کلتوري وغېره اړخونو کښي مختلف کسان بيل بيل ګروپونه او نظرونه لري. د بيان او نظر د ازاد ځرګندولو حس د هر انسان فطري عمل دے چي د قدغن لګولو په صورت کښي پرې انساني جذبات او احساسات مجروح کېږي، هم دغه وجه ده چي د بيان او نظر ازادي د انسان جمهوري او بشري حق منلے شوے دے

د انسان په ازادۍ او خپلواکۍ مئين عرب پوهاند خليل جبران وائي:

"هغوي ما ته اوونيل چي که غلام په خوب اوده ووينې نو مۀ ئي راوېښوه، کېدے شي چي د ازادۍ خوب وينې، خو ما هغوي ته اوونيل که تاسو څوک غلام په خوب اوده وليدو نو راوېښ ئي کړئ او د ازادۍ په مفهوم ئي پوهه کړئ" ـ[2]

شلمي صدۍ په پښتو ادب او سياست کښي لوې بدلون راوستے دے ـ ځکه چي د شلمي صدۍ په شروع کښي برصغير پاک و هند په عمومي توګه او د پښتنو سيمي په خصوصي توګه د انګريزانو خلاف ډېر زور اونيو ـ او پښتو ادب ئي د مقصديت په لور روان کړو ـ د ازادۍ په دغه تحريک کښي د سرو ترڅنګ پښتنو مېرمنو هم دغه مبارزه د ليک لوست په شکل کښي مخ په وړاندې بوتله، په دغه مېرمنو کښي سيده بشرى بېګم، مجيده بېګم، امينه خاتون، سيده ادينه، ماه عالم نګاه، ماهر سلطان، اقبال پروين يوسفزى، نورجهان بېګم او الف جانه ختکه ياد نومونه دي. د دې نومونو نه علاوه ډېري مېرمني داسي هم وې چي د پښتني معاشري د بنديزونو له کبله ئي خپلي نامي نه دي ځرګندې کړي خو بيا ئي هم د خپل قلم په زور په دغه مبارزه کښي خپله برخه اچولي ده.په دې مېرمنو کښي دوه نامي سيد بشرىٰ بېګم او الف جانه ختکه داسي دي چي هغوي په دغه مبارزه کښي وړاندې وړاندې وې . د غلامۍ د تيرو نه رڼا ته راويستلو په دغه هڅه کښي د خدائي خدمتګار تحريک دغه دوه ځلنده شمعې د خپل وطن د ازادۍ دپاره د خپل قلم په ذريعه رڼاګاني خورې کړې ـ

دغه دواړه مېرمني د خدائي خدمتګار تحريک سره تړلي د انقلابي سوچ او فکر ځښتني وې چي د قلم په ذريعه ئي خپل قام او اولس ته د ازادۍ پيغام ورکړے دے ـ ورسره ورسره د اولس د اصلاح او اخلاقي معيار اوچتولو کښي هم خپل کردار ښه په زړۀ پورې او نره لوبولے دے ـ دواړو ادب د ژوند دپاره ښه په کلکه منلے دے ـ دواړو پښتو ادب ته ښه وده ورکړې ده ـ خو دلته زمونږ واضحه کول صرف د هغوي حريت پسندي او مبارزت په ډاګه کول دي ـ

سيده بشرىٰ بېګم:

سيده بشرىٰ بېګم چي په ادبي دنيا کښي د س ب ب په نوم شهرت لري د پښتنو د ازادۍ متحرک صحافي ميا ازاد ګل کره د نوښار په تحصيل په زيارت کاکا صاحب نومي کلي کښي په ۱۹۲۲ء کښي سترګي وغړولي ـ [3] د فارسي، اردو، عربي او پښتو ژبي زده کړه ئي خپل کور کښي وکړه. په دغه وجه ئي مذهبي مطالعه هم ډېره ژوره وه ـ

د کال ۱۹۳۰ء د ازادۍ تحريک د بشرىٰ ملي جذبات راولړزول او د غلامۍ د توري شپي خلاف د خپلو انقلابي شعرونو په ذريعه ئي د حريت پرستو په وينه کښي د ګرمى او جوش په راوستلو کښي اهم کردار ولوبولو [4]

د س ب ب انقلابي کلامونه په "پښتون" مجله کښي خپرېدل چي د خدائي خدمتګار تحريک د سپوري لاندې چلېده ـ دې مېرمني په نظم او نثر دواړو کښي د وطن د ازادۍ او قوم د اصلاح او د ښځو د تعليم په حقله ليکل کړي دي ـ د س ب ب د نظمونو د موضوع په حواله همېش خليل صيب په پښتانۀ ليکوال کښي داسي کښلي دي ـ

"د بشرىٰ په نظمونو کښي پرته د قومي جذبې، د انساني ورورولى مينې، ښېګړې او خصوصاً د جينکو د تعليمي او اخلاقي تعليم او تربيت زور راوړلے شوے دے" ـ [5]

د کلام مجموعه "زېرے" ئي په ۱۹۵۶ء کښي چاپ شوي ده چي په انقلابي او اصلاحي موضوعاتو باندې ئي زياته حصه مشتمله ده ـ د مذهب په حواله ئي هم ښۀ په زړۀ پورې کلامونه ليکلي دي ـ دغه رنګه د پښتون مجلي نه علاوه نورو مجلو کښي ئي هم وخت په وخت ليکونه او کلامونه شائع شوي دي ـ لکه په افغان، نن پرون، شهباز، بانګِ حرم او دغه شان نورو رسالو او مجلو کښي کلام او نظم و نثر دواړه چاپ شوي دي ـ د س ب ب په شاعرۍ په حواله ښاغلے ډاکټر شاه جهان صيب ليکي ـ

"د س ب ب ټوله شاعري د انسانيت او همدردۍ د سبق نه ډکه ده ـ او سپينه خبره ده چي دا يو فطري شاعري ده ـ دې له چي څه په زړۀ راغلي دي هغه ئي د اشعارو په ښائسته جامه کښي ځرګند کړي دي" [6]

دا ښاغلے وړاندې ليکي ـ

"زمونږ دغه انقلابي شاعره هر رنګ مضامين لکه اصلاحي، واعظانه، صوفيانه، اخلاقي، ملي او عشقيه په خپلو افکارو کښې ځاے کړي دي ـ دا پښتنه مېرمن په نظم او نثر دواړو کښې ډېر په زړهٔ پورې ليک کوي" ـ [7]

سيده بشرئ بېګم د نظم سره سره نثر هم ليکلے دے او په نثر کښې ئې افسانې په خاصه توګه يادې دي ـ په افسانو کښې ئې هم د ازادئ او وطن د مينې او د قوم د اصلاح رنګونه جوت دي ـ يوه ډېره مشهوره افسانه ئې د "په قام مئينه جهان آرا" په نوم قامي موضوع باندې ليکلې ده چې په ۱۹۲۹ء کښې چاپ شوې ده ـ او د دې نه پس ئې هم نورې قومي او وطني افسانې ليکلې دي ـ [8]

د افسانې په حواله ئې ډاکټر محمد اعظم اعظم ليکي ـ

"په وړومبي دور کښې ئې وړومبۍ چاپ افسانه "په قام مئينه جهان آرا " په کال ۱۹۲۹ء کښې وليکله او په اخبار افغان بمبۍ کښې چاپ شوه ـ په دې افسانه کښې د يوې پښتنې جينۍ بې وسۍ او مجبورۍ په ډېر دردېدلي انداز کښې بيان شوې دي ـ" [9]

د اغلې س ب ب د ملي جذبې په حقله ښاغلے ايوب صابر دا رنګې ليکي ـ

"وہ ایک حساس مذہب پرست اور قوم پرست خاتون ہیں۔ وہ سرخ پوش تحریک کے زمانہ میں ایک قوم پرست شاعرہ اور ادیبہ کے روپ میں منظر عام پر ائی اور پشتونوں کو خواب غفلت سے بیدار کرنے لگیں۔ پشتونوں میں احساس ذمہ داری پیدا کرنے ان کو انگریزوں کے خلاف بغاوت پر اکسانے اور مذہب کی طرف راغب کرنے کے سلسلے میں سیدہ بشرئ بیگم کی قلمی کاوشوں سے انکار نہیں کیا جاسکتا" [10]

څنګه چې ووئيلې شو س ب ب نثر او نظم دواړه ليکلي دي خو نظم کښې ئې زياتره د حريت او ازادئ په حقله د وطن او قوم د اصلاح په حقله ليک کړے دے ـ د نمونې په طور دلته يو څو ټکړې وړاندې کولې شي ـ

د نظم عنوان: د وطن مينه

زمونږ په وينو دې تازه شي اوچ بوستان د وطن
يو ځل دې ځار په معشوقې شي عاشقان د وطن

په دې نظم کښې ډېر په زړهٔ پورې انداز د وطن د مينې او جذبې په حقله شوے دے ـ

په يو بل ځاے کښې د وطن او قوم په مينه کښې داسې بيان لري ـ

دا زهٔ د څهٔ په محبت کښې شوګيرې تېرووم
د څه له غمه د ژوند شپې ورځې سپېرې تېرووم

لاسونو پينو ته مې پرتې دي هتکړۍ د جهل
بې جرمه ولې د مجرم ژوندون اودې تېرووم

زهٔ يم عاشقه ناکاميابه د خوږ قوم او وطن
ځکه په بيا بيا په ډېر شوق دغه مصرې تېرووم[11]

د خپل داخلي احساس سره د قام په غم باندې شريکه دا خواخوږې قام په مينه څه داسې ګويا ده ـ

خپله ګټه چې په نورو خلقو
داسې اورم دا د خويونه د پښتون دي

زهٔ س بې بې د زړګي حال اووايم چا ته
بس قلم کاغذ همرازې د مضمون دي[12]

د وطن په مينه ورکه دا ازادي خوښه انقلابي ليکواله په کال ۲۰۰۲ء د اګست په شپاړسمه وفات شوه ـ

**الف جانه ختکه.**

دا انقلابي شاعره د روژې په شپږمه په کال ۱۹۲۷ء کښې په کوهاټ ضلع احمدي بانډه کښې د غني شاه کره پیدا شوې ده ـ باقاعده توګه ئې اتم جماعت او پرائیویټ تر ایم اے سبق ووې ـ د ورور په بدل کښې واده شوه او بیا واپس د پلار په کور کښېناسته ـ الف جانه خټکه د خدائي خدمتګار تحریک نظریاتي ملګرې پاتې شوې ده ـ او د پاکستان د قیام نه وړاندې لکه د شمعې بلېده ـ د الف جانې اکثر اشعار په "پښتون" کښې د هغې د سخر حلیم محمد د تنقیدي او اصلاحي نظر نه پس کله کله شائع کېدۀ ـ [13]

د انګریز استعماري قوت خلاف چې کله پښتنو په عمومي توګه او خدائي خدمتګار تحریک په خصوصي توګه عملي او قلمي مخالفت او د ازادۍ هڅې شروع کړې نو الف جانه خټکه هم د چا نه وروستو نۀ وه ـ د خدائي خدمتګار تحریک سره د الف جانې خټکې عشق د جنون تر حده وۀ او د خپل قام او وطن د ازادۍ دپاره په هر محاذ جنګېدلې ده ـ

ښاغلي همېش خلیل ورته په خپل کتاب کښې داسې نظر کړے دے ـ

"کله چې د ټول برصغیر پاک وهند توریالي د خپلې ازادۍ ترلاسه کولو دپاره راپاسېدل نو پښتون هم د یو قام په حېثیت د ازادۍ په دغه جنګ کښې مېدان ته راووتو ـ چې پښتانۀ شاعران او لیکوال پکښې هم روستو پاتې نۀ شول ـ دغه ضمن کښې الف جانه خټکه هم د هغو اهلو قلمو سره د یوې با عملې پښتنې شاعرې په حېث دغه جنګ کښې د چا نه وروست پاتې نۀ شو ـ چې اوس اوس هم د خپل دغه مجاهدانه کردار په وجه د ازادۍ خواهو شاعرانو په صف کښې د یو ښکاره مقام مېرمن ده" ـ [14]

د ازادۍ په نوم ورکه الف جانه خټکه د قوم او ملک په مینه کښې دومره غرقه ښکارې چې د هغې مقابله هډو بله پښتنه مېرمن کولے نۀ شي ـ په عامو خلقو کښې شاید وي خو په شاعرانو ادیبانو کښې د خدائي خدمتګار تحریک دا نظریاتي ملګرې د خپل قام په مینه ورکه لېونۍ لګي ـ

څه چې ترکي له مصطفیٰ کمال په خان کړې دي
مونږ نه هغې نه یو په دوه فخر افغان کړې دي

ننګیالے ګل دے، هر بلبل به ئې ثنا کوي تل
څکه ئې دومره صفتونه الف جان کړې دي [15]

ښاغلي ایوب صابر د الف جانې په حقله د هغې قومي او وطني جذبه داسې بیان کړې ده ـ

"محترمہ الف جان خٹک نے بھی اپنی باغیانہ نظموں سے دھوم مچائی۔ خدائی خدمتگار تحریک کے عروج کے زمانہ میں ایک ایک شاعرہ کی حیثیت سے ابھری اور اپنے باغیانہ کلام سے انقلاب برپا کرنے کی کوشش کرتی رہی۔ اس طرح پشتو کی سب سے پہلی باغی شاعرہ جانی جاتی ہے" [16]

د ژوندي قام شاعر او ادیب تل د قلم په ذریعه د خپل قام د بېدارۍ او خپلواکۍ احساس پیدا کولو هڅه کړې ده . الف جانه خټکه خپله دغه وظیفه په دې ډول ترسره کوي

ازادي څه ده؟ د خدائے نعمت دے
غلامي څه ده؟ د خدائے لعنت دے

که دا دوزخ وي هغه جنت بوله
شک چې ونۀ کړې دا حقیقت دے [17]

او بیا د غلامۍ نه کرکه دا رنګه کوي ـ

الف جان وائي امین ما دې خدائے واخلي
ښۀ د دې غلامستانه ماته ګور دے [18]

د پښتون قام دا اتله مبارزه لیکواله په پنځلسم ستمبر ۲۰۱۹ء د اتوار په ورځ د اته اتیا (۸۸) کالو په عمر کښې خاورو ته وسپارلے شوه

د پائلې په توګه وئیلے شو چې د ازادۍ او خپلواکۍ په ارزښت پوهه دې دواړو مېرمنو خپلې ټولې علمي او ادبي هڅې د خپل قام ازادۍ او سوکالۍ ته وقف کړې وې. او د تحریک ازادۍ په دې مبارزه کښې ئې د نارینه لیکوالو سره سره اوګه په اوګه تګ کړے دے او دې تحریک کښې ئې یو فعال کردار لوبولے دے.

Pukhtunkhwa Journal

حوالي

[1] مجله پښتون،جنوري ۱۹۴۰ء مخ ۲۳،۲۴
[2] مجله پښتون، اپرېل، ۱۹۴۰ء مخ ۲
[3] د پولسم جماعت درسي کتاب، مرتبين، ډاکټرمحمد اعظم اعظم، ډاکټر ايم اقبال نسيم خټک، بي بي مريم، کے پي ايس پرنټرز، مخ ۱۸۲
[4] همېش خليل ، پښتانۀ ليکول اول ټوک، اباسين پرنټنگ پريس پېښور، ۲۰۱۰ء مخ _ ۳۹۱
[5] هم دا اثر، مخ _ ۳۹۲
[6] شاه جهان، ډاکټر، پښتو ادب کښي د مېرمنو برخه، نديم يونس پرنټرز لاهور، ۱۹۹۲ء مخ ۸۹۹
[7] هم دا اثر، مخ _ ۲۰۰
[8] شاه جهان ډاکټر، پښتو ادب کښي د مېرمنو برخه، په سرحد کښي وړومبے لساني او ثقافتي کانفرنس، ۲۹ اپريل ۱۹۸۶ء مخ _ ۳۶۵
[9] محمد اعظم ، اعظم ، ډاکټر، پښتو افسانه، منظور عام پريس پېښور، جولائي ۱۹۷۶ء مخ ۱۱۴ _ ۱۱۵
[10] ايوب صابر، جديد پشتو ادب، مکتبہ شاہين خيبر بازار پشاور جون ۱۹۷۳ء، ص۔۲۳۱
[11] هم دغه اثر، مخ ، ۲۹۳-۲۹۴
[12] پښتانۀ ليکوال، همېش خليل مخ _ ۲۹۵
[13] شاه جهان، ډاکټر، پښتو ادب کښي د مېرمنو برخه، نديم يونس پرنټرز لاهور، ۱۹۹۲ء مخ _ ۲۰۸
[14] هم دا اثر، مخ _ ۲۰۹
[15] محمد صادق، ژړک، د فخر افغان څانګړني، پښتو ادبي غورځنگ کوټه ، جنوري ۲۰۱۲ء مخ _ ۱۵۴
[16] ايوب صابر، جديد پشتو ادب، مکتبہ شاہين خيبر بازار پشاور جون ۱۹۷۳ء، ص۔۲۳۲
[17] مجله پښتون، ۱۹۴۶ء مخ _ ۶
[18] مجله پښتون، ۱۹۴۶ء مخ ۱۴

Pukhtunkhwa Journal